خالق رشید

۲۰۱۵/۰۹/۱۹

# د سره میرزا وزه



لنډه کیسه

زموږ کلي خو تا سو ته مالوم دی، چې هره ورځ يې نوې ده، زموږ کليوال تل د خپلو بوختياوو لپاره يوڅه، يوه خبره خامخا را پيداکوي او خپل وخت پرهغو باندې تيروي، خو ځينې خبرې داسې هم په کې راځي چې هغه پخوا تيرې شوې وي، هر يو چې په کلي کې کوم ناوړه کار ترسره کړي، نو بيا هغه کړه ګرده پر مخ ور وباسي او دايې هم ترغوږ ور تيروي چې ګواکي ته هم لکه پلانی او بستانی داسې شوی يې او ياهم د هغه کاني کوې.
زموږ په کلي کې له ډير پخوا کليوال د ميرزا او ميرزايانو له نومونو سره آشنا دي، ځکه چې هلته د ميرزايانو يو اوږد تاريخ تيرشوی دی، او زياتې کيسې ترې پاتې دي، په دغو ميرزايانو کې يو مهال يو سور ميرزا هم راغلی او تيرشوي دی. وايي دغه ميرزا يوه وزه چيرې د ترکستان په چم ګاونډ سيمو کې له چا په بډو کې اخيستې وه، کله يې چې کلي ته راوسته ګردو کليوالو پرې خندل، ځکه چې نه يې چاغي درلوده او نه يې هم کومه داسې ځيره او قواره چې د چا پام دې ور اوښتی وي. خو سره ميرزا چې له ترکستان اوقطغن څخه ترغزني پورې پلي مزل ورسره کړی و، نو ده به دا خبره کليوالو ته کوله چې: وچکول توب او ډنګرتوب ته يې مه ګورئ، دغوا په شان شيدې کوي، او چې د غره په سر کې شين ډکی ووينې، نو بيا ترې خطا کيدای نه شي، نورې ښيګړې چې دايې لري پرهغويې هم يوازې زه پوهيږم او بس ...
رښتيا خبره خو داوه چې د سره ميرزا وچکولې او لنډ غوږې وزه  ده ته بې اثره نه ښکاريده، د نورو مالونو او ميږو سره يې يوځای د کلي پاده وان ته زړه نا زړه ور وسپارله. د وزو او ميږو په سرکې به روانه وه، جالبه خو لا داوه چې زموږ د کلي د وزو په منځ کې يوازې دا ښکره وره وه، هغه وزې اوميږې چې زموږ په ګورم کې بې ښکره وې، هغه يوه هم پرخوا نه شوې ورتلای، خره او خوسکي داسې ترې ترهيدل چې لکې به يې په سر واړولې او په يوه غر به يې منډې ترې وهلې... په ټوله ګورم کې يې د چا خبره د لالا خان له سخندره پرته له بل حيوان څخه سترګه نه کيده، هغه هم ترهغه وخته چې لا خسي شوي نه و، ځکه چې هغه هم ښکرور و  او زورور ...
په هغو شپو ورځو کې زموږ د کلي ګور وان بخت علی اکا، چې ځواني يې ګرده زموږ د کلي د ګوروانۍ او پاده واني په شور او شرنګ کې تيره کړې وه، له هغه به چې چا د سره ميرزا د لنډغوږې وزې په باره کې پوښتنه وکړه نو ده به يوازې دا خبره ورته کوله :- که دا وچکولې وزه وه او دا زما د خرو او خوسکيو کمزورې او ډازنه ګورم ، نو د ميرزا خولۍ په غوړيو کې ده، هو، هيڅ غم نه لري ...ځکه چې دا زمرۍ ده، زمرۍ ...
بخت علي آکايي ځکه ستاينه کوله چې سره ميرزا به کله کله ده ته هم پرهغې د پاملرنې په خاطر، يو څه تر تخرګ لاندې ورکول، او که نه په اصل کې خو د ده هم نيت ورته ښه نه و...
په زړه پورې خو داوه چې يوه ورځ پرګورم باندې د ليوانو يوه سخته داړه راګډه شوه، د بخت علي اکا هم تر وس ور ته تيره او واړې ورته وختې، ځکه يې ځان د يوه کمره شا ته آرام نيولي و او د ليوانو د پرله پسې داړلو او



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په خير و لولئ

وژنو ننداره يي کوله، بخت علي آکا به دا کيسه تل موږ ته کوله چي په دغه بد غوبل کي د سره ميرزا پر وزه باندي څه کانه وشوه، ده به ويل چي يوځل يوه سره ليوه له يوي خوا پر دې باندې ځان ورسيلی کړ، چي ور نژدې شو، نوبيا يي په چغو او بغارو پيل وکړ، ليوه و رنړدې شو، نژدې و چي کار يي ورختم کړي، ښی ښکر يي د ليوه پرکوم ځای باندې په زور سره ولګيد، ليوه ځای پرځای ودريد، او دې تري منډه کړه، ليوه هڅه پسي وکړه، ځوپي ځان ورپسي رساوه دا بيا دلوړ کمر سرته تري ختلي وه، هلته چي د ليوه لپاره ختل ګران وو. د ليوانو د وژلو او ځيرلو تر پايه هلته ولاړه وه او د دغه بدحالت ننداره يي په مزو مزو سره کوله، ترهغه وخته لا هلته وه چي څو نا آشنا ښکاريان له خپلو سپيو سره له کوم خوا را پيدا شول او له بخت علي آکا سره يي مرسته وکړه ...

د سره ميرزا وزې زموږ په کلي کي ورځ په ورځ نوم ايسته، ځکه نو زموږ کليوالو به له يوه بل سره دا خبره کوله:

- وزه نه ده، زمری ده، زمری ، له ليوانو سره ډغرې وهي، سپي خويي نصوار هم نه دي ...

همدغو آوازو او ببولالو د ميرزا د وزې آوازې هري خواته خپرې کړي، زموږ کلي ته به اوس له هري خوا د چا خبره له موره ليونيان را روان ول، او د دې وچکولي او لنډ غوږې وزې ننداره به يي کوله، آن چي ښارو ته يي هم آوازه ورسيده ،کله به چي کليوال ښارو ته لاړل، نو دا خبرونه به يي يو ځای بل ځای سره اوريدل چي د سره ميرزا د وزې په باب په اخبارو کي هم خپريدل ... چيرې چي د ژوو ښونه وو، د هغو دروازې د دې په تصويرونو او انځورو باندې ښکلي ګرل شوي وو او د ماشومانو تماشي او ننداري به پرې تودې وې ...

دسره ميرزا وزې پرهغه مهال زموږ د کلي نوم خورا اوچت کړی و، يوازې له حاجی کاکا پرته نورو ټولو کليوالو يي په ستاينو باندې خولې تناکي تناکي کړې وې، خو حاجي کاکا بيا په سپيو او نورو حيواناتو باندې له وياړ سره ډير مخالف و، ځکه به ده تل ويل:

- په وزو اوسپيو چا وياړ کړې، ولي سړي نشته، انسانان دومره بې قدره شول، چي د هغو ارزښت او مقام بايدوزو او سپو ته ورکړ شي؟ د يوه قام چي بدمرغي په برخه کيږي، په عقيده کي يي خلل راځي، نو بيا په دې شان کارو باندې اخته کيږي، د کلي پای ته د خدای خيرپيښوي، او خدای دې زموږ مل شي...

سره ميرزا ته که هرڅومره خلک را غلل چي دا تري وپيرې، خو زړه يي پرې ونه شو، او پرچا يي ونه پلورله، هرخريدار زياتي پيسي ورته ومنلي خو ده بياهم خپله منلي وه، او د نورو يي وانه وريده... ځکه چي ده به ګردو سوداګرو ته ويل چي دی غواړې د دې وچکولي او لنډغوږې وزې نسل د ده په نامه ياد شي، هغه به داخبره کوله، چي :- ما دا له ترکستانه تر غزني پورې هسي د دې لپاره نه ده راوستي چي يوازې خلک يو،دوه کاله ننداره وکړي، دا بايد موږ ته وزې او وزګوړي وزيږوي، داسي لکه د خپل ځان په شان چي تر ډيرو پورې زما نوم پرې ژوندی ياد شي، هو زما نوم، سورميرزا، د سره ميرزا د وچکولي او لنډغوږې وزې بچي، د سره ميرزا د وزې لمسی... د سره ميرزا د وزې کړوسی او ...

سره ميرزا پرهمدغه لامل هغه ساتله او نه يي پلورله، او په دې خبره چي: د ميرزا وزه ، وزه نه ده، زمری ده، زمری ... به يي زړه باغ باغ کيده، په تيره په کومه ورځ به يي چي د بخت علی اکا خوله هم لړ ور غوړه کړه نوهغه به يي تر زمری هم رتبه ورجګه کړه او ميرزا ته به ور نژدې شو او ورته وبه يي ويل:

- ياره ميرزا صاحب، يا ته بزرګ يي او يا د پر دغي وچکولي لنډغوږې وزې باندې د کوم بزرګ سيوری لويدلی دی ...

ميرزا به د بخت علي آکا همدغه خبرې د يوشمير سادګانو په خولو ورکولي، هغوي به هم د ميرزا په خاطر خپلي ستايني او لوريني په نورو نورو رنګو ورسره مل کړې، يوه، يوه ساده به بيا په رښتيا او درواغو د خپلو خوبونو په خيالونو کي سور ميرزا او د هغه وچکولي او لنډغوږې وزه د کراماتو په لمن کي را نغښتل او تعبيرول چي ګواکي يا پر ده او يايي پر دغي وچکولي او لنډغوږې وزې باندې د کوم بزرګ سيوري لويدلي دی ...

د مداحانو او ډنډور چيانو ډنډورې خو نورې هغي کچي ته ورسيدې چي سورميرزا نا چارشو چي خپله وزه نوره له کوره د باندې هم ونه باسي، هغه يي د بخت علی آکا له ګورمې را بيله کړه، او ژمنه يي وکړه چي نور نو بايد د



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په خير و لولئ

هرچا نظر پرې ونه لګيږي، يوازې کله کله به چې د سره ميرزا زړه وغوښتل، نو بيا به يې د هواخورۍ په نامه دسيند غاړې ته را ويسته او هلته به يې هم تر غاړه نيولې څروله او را څروله ...
د سره ميرزا د وچکولي او لنډغوړې وزې نامتو والي پرهره خوا خور شو، خو د بخت علي اکا، بخت نور په کوټه شو، په دې چې اوس به د ده پرګورم پسې د ننداړچيانو او سوداګرو ليکې نه وې را راوني او نه ميرزا اوس هغه پخوانی لورينه پرده بانديې درلوده ،همداوه چې کله به له ده څخه چا په دغه اړه پوښتنه وکړه، ده به اوس ورته ويل:
ـ که د لالا خان سخندر نه وای خسي شوی، د ميرزا له وزې به دومره لويه هنګامه نه را پورته کيده، ماته نا آشنا ښکاريان معلوم دي، که چيرې د هغو ښکيل ته ورغله، نو بيا به نه سور ميرزا وي او نه هم د هغه وچکولي لنډغوړې وزه ...
د بخت علي آکا زړه اوس له دې امله درد کاوه چې سره ميرزا ده ته کله نا کله لاس نه ور اوږداوه ، ځکه يې هلته او دلته دا ډول خبرې ترخولې راوتې، چې يوازې يو څو کسان د دغو خبرو په رمز او راز بانديې پوهيدل او بس...
ده به دا هم ويل چې که د نا آشنا ښکاريانو د سپيو شور او زوږ پر دې هسکو او ټيټو نه وې، نو د ده د ګورمې يو ژوې به هم له ليوانو ژوندي پاتې نه وای. ان چې دا به يې هم کله کله ويل چې د هغو ستاينه بايد وشي. ميرزا هسې خوشحاله دی، چې ګواکې وزه يې زمری ده ... زمری... دا هسې خبرې دي، ما د نا آشنا ښکاريانو د سپيو زور ليدلی دی او باور دی چې دی به يې هم يوه ورځ خامخا ګوري ...
داسې ښکاريده چې بخت علي آکا د نا آشنا ښکاريانو د ليوالتيا هم اوريدلي وو چې ګواکي دوی دوچکولي وزې ښکارکولو ته ملا تړلې ده ... خو داسې نه ښکاريده چې هغوی به دغه کارته زيات بيړني وي ...
د نا آشنا ښکاريانو هنګامه دا څوکاله زموږ پرکليو او بانډو بانديې توده را خوره وه ، کوم کارونه چې هغه به خلکو او کليوالو نا شوني بلل او يا به يې تر وس ورته تيره شوه نو بيا به يې سره ويل چې د دغه شان ستونزو حل کول دوی ته نصوار هم نه دي، د دوی په اړه دا هم ويل کيدل چې دوی اوس د سره ميرزا وچکولي او لنډغوړې وزې ته يې هم د ښکار نيت کړی دی.
يوه، دوې اونۍ په دی کې نه وې سره تيرې چې يوه ورځ مو واوريدل چې هغوی دا ښکار، چې د ډيرو په اند دنه منلو وړ و سرته ورساوه، موږ خو لاپر يرده چې دغه کار او دغه ښکار ته دا نژدې کلي او کليوال ټول حق حيران پاتې وو، ميرزا په دې نژدې يوه يونيم کال کې هغه د اوسپنو تر ديوالو هغه خوا ساتله، آن چې له خپلو دوستانو او يارانو څخه يې هم د هغې د خوندي ساتلو هيله کړې وه، خو له دې سره يې هم ونه شوای کولای چې هغه وژغوري او د هغه پر داد دې ورسيږي ...
په هغه ورځ چې د سره ميرزا وچکولي او لنډغوړې وزه، ساړه څانګونه د ده د کور په دروازه کې بيواکه پرته وه، او ده خپل لاسونه ورته موښل کليوال هم له ده سره د غمرازې په موخه ټول راوتلي وو، ځينو خو به يوه او بل ته د ميرزا هغه له کبره ډکه خبره چې ده به تل کوله: دجال او د هغه خره ته د چا زور نه رسيږي، په ټوکو ټوکو کې يوه او بل ته ترغوږو ورتيروله ... هو، دجال او د هغه خره ته دچا زور نه رسيږي ... ها ها ها...
داچې نا آشنا ښکاريانو د سره ميرزا وچکولي وزه په څه شان له ده پر هوا کړه او د ده هيلې يې ور نيمه خوا کړې، په دغه راز يوازې دی په خپله خبرو او دی ترهر چا ښه پرې پوهيده او بس ...
په هغه ورځ د کلي او چم ګاونډ ټول خلک د هغې وچکولي وزې ننداړې ته يو پربل پسې راتلل، دا له دې امله چې د هغې داشان په حيرانتيا را نسکوريدل، په خپله په دې ارزيدل چې بايد هر يويې ننداړې ته راشي او ځان د دغه ناشوني کار په رمز بانديې پوه کړي ... حاجي بابا هم په هغه ورځ په ناخبری سره زموږ کلي ته راغلي و، هغه چې د خوار ميرزا د وچکولي لنډ غوړې وزې دغه حالت ليدلي و، ميرزا ته موسکی شو او په ترخه کتنه کې يې داخبره ترخوله ورته راووته :ـ وزه نه ده، زمری ده، زمری ... ودې ليده چې اوس زمانه بدله شوه، د زمريانو حال بايد همدا سې وې، هو، همداسې ... ها ها ها ...

پای

---

د پاڼو شميره: له ۳ تر ۳

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالې د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په خير و لولئ